DAILY

اراده

دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپاڼه

سال پنجم شماره ۲۰۰
شماره مسلسل ۸۲۶
پنجشنبه ۲۷ اسد ۱۳۸۴هـ
۱۳ رجب المرجب ۱۴۲۶ هـ ق
18August, 2005

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

آغاز مبارزات انتخاباتی





رقابت در نخستین انتخابات پارلمانی کشور از زمان سقوط طالبان در سال ۲۰۰۱، روز چهارشنبه آغاز شد.
تقریبا ۲۸۰۰ نامزد برای ۲۴۹ کرسی شورای ملی رقابت می کنند.
بیش از یک چهارم کرسی ها به زنان و ده کرسی به اقوام کوچي تخصیص داده شده است.
بیش از سه هزار کاندیدای دیگر نیز برای کسب کرسی هایی در ۳۴ شورای ولایتی رقابت می کنند که انتخاب گیج کننده برای ۱۱ میلیون و ۷۰۰ هزار رای دهنده ای که ثبت نام کرده اند خواهد بود. انتخابات روز ۱۸ سپتامبر برگزار می شود.
این انتخابات آزمون کلیدی دیگری در جهت دور شدن از چند دهه جنگ است و مرحله نهایی در فرآیند انتقال قدرت پس از سقوط طالبان به حساب می آید.
از برخی جهات مبارزات انتخاباتی از قبل آغاز شده است.
دیوار برخی محلات که در موقعیت بهتری قرار دارند از چند هفته قبل با پوسترهای تبلیغاتی نامزدها پوشیده شده است. اما این رقابت ها در کشور در سطوح سنتی تر. از جمله در جلسات بزرگان قبایل یا در نماز جمعه ها، هم شکل خواهد گرفت. ص ٤

دوه ماشومان دتښتوونکو له منګولو وژغورل شول

دخوست ولایت د تنیو په ولسوالۍ کې دوه ماشومان د تښتوونکو له منګولو په داسې حال کې راخلاص شول چې ددغو ماشومانو درې تښتوونکي هم د پولیسو له خوا ونیول شول.
دتنیو ولسوالۍ ولسوال مرزاجان نیمګړي ویلي چې ۷ کلن نور الله او ۱۰ کلن واحد ددغې ولسوالۍ د سینکیو له سیمې څخه روښانی سیمې ته تښتول شوي وو او دګلاب په نوم دیو تن په کور کې ساتل کیدل.
ده زیاته کړه چې ددوی څواکونو دراپور له ترلاسه کولو څخه وروسته عملیات وکړل او دګلاب په کور کې یې دوه ماشوم تښتوونکي میر عالم خان او جمیل چې دواړه ورونه دي او ور سره د کور خاوند ګلاب هم ونیو او ماشومان یې ترې خلاص کړل.
دخوست ولایت دامنیه قوماندانۍ جنایي آمر سمونوال یعقوب پژواک اژانس ته ویلي چې یو تښتوونکی میر عالم خان په خپل جرم اعتراف کړی او د ماشوم تښتولو لامل یې دهغه پلار سره حقوقي دعوه بللې

خواسته طالبان پذیرفته میشود



شرکت انورصوفان حاضر است تا خواست طالبان را در مقابل رهایی انجینر لبنانی که روز یکشنبه در مسیر راه کندهار- کابل ربوده شده است، برآورده سازد.
انجینیر صفی الدین محمد ردا لبنانی، که در شرکت انورصوفان. کار مینمود، حین بازگشت به کابل در ولایت زابل موترش توسط طالبان توقف داده شده وبعداً به جای نا معلو می برده شده است.
سخنگوی طالبان لطیف الله حکیمی روزگذشته به پژواک گفته بود که، آنها به شرکت مذکور هوشدار داد ه اند که افغانستان را ترک نماید.
وی همچنان افزوده بود: ((اگر اینها تقاضا مارا قبول نکنند، ما اختطاف شده را خواهیم کشت.))
طالبان، همچنان ساعت ۱۲ ظهر را برای کشتن او ضرب الاجل تعیین نموده بودند، اما این ضرب الاجل تاعصر دیروز تمدید شد. ص ٤

د لوی او بښونکي خدای په نامه

سرمقاله

داسد اته ویشتمه له حماسو ډکه ورځ

د اسد ۲۸ مه زموږ دهیواد په تاریخ کې له حماسو ډکه ورځ او په زرینو کرښو لیکل شوې ده.
دا هغه له ویاړه ډکه ورځ ده چې له استعمار څخه تر پوزې راغللو افغانانو دافغان هیوادپال پاچا امیر امان الله خان تر مشرۍ او لارښوونې لاندې دانګریزانو هغه ستر استعماري قوت چې نابللې په پوځي لباس کې راغلي او زموږ خاوره یې اشغال کړې وه ودریدل او له ډیرو جګړو او سرورکولو وروسته یې د وخت ستر استعماري قوت دېته مجبور کړی چې افغاني قوت ته تسلیم او افغانان په خپل هیواد کې دازادۍ بیرغ وریپوي.
څکه خو دغه تاریخي ورځ دکلونو په اوږدو کې هر کال دافغانانو له خوا په شانداره مراسمو سره نمانځل کیده خو له ۱۳۵۷ کال څخه تر اوسه پورې دغه زموږ تاریخي او له ویاړه ډکه ورځ دثور داومي او دثور داتمې دنمانځلو تر سیورې لاندې راغلې او ډیر کلونه یوازې په تش نمانځلو سره تیره شوې او ددغې تاریخي ورځې ارزښت چې ډیر زیات دی کم ښودل شوی.
چې افغانانو خپله سیاسي خپلواکي دنوموړي مشر تر سیورې لاندې ترلاسه کړه دهیواد دهر اړخیز پرمختګ لپاره یې ملا وتړله دریغه چې ډیر ژر دبهرنیو هڅونو. لمسونو او پروګرامونو او په هیواد کې دبې اتفاقۍ د اور دلګیدو له امله کورنۍ جګړې پیل او نوموړي امر یې دهیواد پالنې په روحیه دخدمت کولو لپاره پرې ننښود. ۴مخ

بازدید وزیر دفاع هسپانیا از محل سقوط هلی کوپتر



خوزه بونو وزیر دفاع هسپانیا در راس یک تیم تحقیقاتی به شهر هرات رفته است تا از نزدیک، محل سقوط هلی کوپتر حامل سربازان هموطنش را بررسی کند. ص ٤

د طلاکي په مشرۍ اوو وسلوالو غلو ته داعدام سزا واورول شوه

په کابل کې یوې محکمې اوو وسلوالو غلوته داعدام او دوو نورو ته د ۱۲ کلو بند سزا واوروله.
دغه مجرمان دوه نورې محکمې هم لري. ٤مخ

دحج په مناسکوکې په خیانت تورنو ته سزاوټاکل شوه

دحج او اوقافو وزارت دوو مرستیالانو اوددغه وزارت شپږو نوروهغو مامورینو ته چې دتېرکال دحج په مناسکو کې په خیانت کولو مجرم پېژندل شوي وو. له یو څخه تر پنځو کلونو پورې بند اونغدي جریمې سزااورول شوه. ص ٤

پولیس کندهار نشرات رادیو آزاد افغان را قطع کرد

نشرات رادیو آزاد افغان در کندهار صبح دیروز زمانی قطع گردید که پولیس یک کار مندان بخش تخنیکی این رادیورا ولچک نموده به قوماندانی امنیه انتقال داد.
میراجان همکار، کارمند رادیو ازاد افغان در کندهار به خبرنگار اراده در کندهار گفت: دو تن که یکي آنها ملبس به یونفورم پولیس بود ص۴

کشف مجسمه نیم تنه ای بودا با دو اثر دیگر تاریخی



تیم کاوشگران افغانی و فرانسوی. مجسمه نیم تنه ای بودای کوچك واستوپهٔ بزرگ وکوچك را که قدامت آن به دوره بودیزم میرسد. اخیرا. در ولایت بامیان کشف کرده اند
پروفیسورزمریالی طرزی. رییس تیم یازده نفری کاوشگران افغانی و فرانسوی. گفت که این مجسمه. دارای دو عشاریه پنج متر طول بوده که در پهلوی این دو استوپه قرار داشت. نظر به مطالعات آنها. سر این مجسمه در دوران حملات سپاه چنگیز. تخریب شده است ص ٤

انفجار یکصد بمب در بنگله دیش

دهها بمب در نقاط مختلف کشور بنگله دیش منفجر شده و یک گروه بنیادگرای اسلامی مسئولیت این انفجارها را برعهده گرفته است.
به گفته پولیس بنگله دیش، روز چهارشنبه، ۱۷ اگست، حدود یکصد وسیله انفجاری ضعیف در فواصل زمانی نزدیک به هم در برابر ساختمان های دولتی، مراکز فروش، دفاتر مطبوعات و ساختمان های محاکم آن کشور در داکه، بندر چیتاگونگ و حدود پنجاه شهر دیگر منفجر شد.
این انفجارها باعث وحشت ساکنان این شهرها شد اما براساس گزارش های اولیه، به نظر می رسد که این وسیله های انفجاری بمب های دست ساز کوچک بوده و خسارت مالی و جانی مهمی به بار نیاورده است. ص ٤



تاسو بايد په هغه ولايت کې رايه ورکړئ چې ستاسو د نوم ليکنې په کارت کې ليکل شوی وي

شما باید درهمان ولایتی رای بدهید که در کارت ثبت نام شما درج است

د ولسي جرګې او ولايتي شورا ټولټاکنې به د ۱۳۸٤ کال د وږي په ۲۷ مه نېټه تر سره کيږي.
په دغه ورځ به موږ د ولسي جرګې او ولايتي شورا لپاره د خپل ولايت استازي ټاکو. اوس هغه وخت دی چې خپل کانديدان وپيژنو او دا چې دوی به زموږ لپاره څه تر سره کولای شي!
ژر به د کانديدانو رسمي کمپاين پيل شي او کانديدان به په عامو ځايونو کې په غونډو جوړولو او په راډيو، تلويزيون او اخبارونو کې د اعلانونو په خپرولو پيل وکړي. دغو غونډو ته ورتګ او اعلانونو ته پاملرنه به له موږ سره مرسته وکړي چې وپوهيږو کانديدان څه مفکوره لري او که بريالي شي نو څه پلانونه لري.

کانديدان سره پرتله کول بنه خبره ده، ځکه دا به له موږ سره مرسته وکړي چې پرېکړه وکړو کوم کانديد به په ښه توګه د هغه څه استازيتوب وکړي کوم چې به زموږ او زموږ د کورنيو لپاره مهم وي. يوکانديد هڅه کولای شي د خبرو په ذريعه چې څرنګه دوی کومان کوي په ښه ډول زموږ استازيتوب کولای شي موږ د خپل ځان په پلوی قايل کړي خو مجبورولای مو نه شي چې دوی ته رايه ورکړو. کوم کانديدان چې هڅه کوي موږ وويروي چې دوی ته رايه ورکړو، د قانون مخالفت کوي او په دغه ډول کارونو بايد دانتخاباتي شکايتونو کمېسيون يا خپل ځايي ولايتي انتخاباتي کمېسيون خبر کړای شي.

که چيرې موږ دانتخاباتي شکايتونو کمېسيون يا خپل ځايي ولايتي کمېسيون ته خپل شکايت وړاندې کوو نو بايد د پېښې نېټه، وخت او ځای هم ورسره وليکو. موږ بايد پېښه پوره ورته څرګنده کړو او د هغو خلکو ليست هم ورسره وليکو چې هلته موجود وو او د پېښې شاهدان وو. زموږ په شکايتونو به يوازې هغه وخت غور کېدای شي چې که هغه په ټاکنو کې د درغلي په اړه وي. د دې معنا دا ده چې ولايتي انتخاباتي شکايتونو کمېسيون ستاسو شخصي ستونزې نشي حل کولای او نه هم څوک مجرم ګرځولای شي. د شکايت درج کولو لپاره موږ د ټاکنو خپل ځايي ولايتي دفتر ته تللای شو. که چيرې تاسو په دغه ارونډ ويره لرئ نو د مربوطه دفتر څخه غوښتنه کولی شئ چه ستاسو هويت خوندي وساتي.

دا زموږ ټولو افغانانو لپاره ډېر ارزښت لري چې له دغه موقع نه ګټه پورته کړو او د خپلې خوښې کانديد وپيژنو.

* زموږ د کانديدانو لپاره، د ولسي جرګې او ولايتي شورا هر کانديد کولای شي په راډيو او تلويزيون اعلانونه خپاره کړي. د نورو معلوماتو لپاره د info.mc@jemb.org سره اړيکي نيولای شئ.

انتخابات ولسی جرگه وشورای های ولایتی به تاریخ ۲۷ سنبله ۱۳۸٤ برگزار می گردد. در این روز ما نماینده های ولایت خودرا به ولسی جرگه و شورای ولایتی انتخاب می کنیم. حال وقت آن رسیده است که کاندید های خودرا بشناسیم و بدانیم که آنها برای ما چه خواهد کرد. به زودترین فرصت کمپاین رسمی انتخاباتی کاندیدان آغاز وبه انان رسماً اجازه تدویر جلسات در محضرعام داده خواهد شد. ضمناً انان خواهند توانست تا با استفاده ازرادیو، تلویزیون و سایر رسانه ها جهت تبلیغات استفاده نمایند. این امر برای ما کمک میکند تا از برنامه و پروگرام های کاندیدان خود از قبل بدانیم که اگر در انتخابات برنده شوند برای ما چه خواهند کرد.

کمپاین انتخاباتی میتواند مارا یاری رساند تا تصمیم خوب در انتخاب کاندید خود اخذ نمایم. این یک موضوع مهم برای ما و فامیل ما پنداشته میشود. هر کاندید میتواند که با ما حرف بزند و مارا قناعت بدهد که به وجه خوب از ما نمایندگی کرده میتواند، ولی هیچ یک از کاندیدان نمیتواند مردم را با استفاده از زور وادار سازد تا با انان رای بدهند. کاندیدان که شما را تهدید و جبراً وادارمی سازد تا به آنها رای بدهید باید بدانند که از قانون تخطی میکنند و باید همچو موضوعات فوراً به کمیسیون سمع شکایت انتخابات واقع در کابل و یا به دفتر سمع شکایت درولایت خودتان گزارش داده شود.

اگر شما به دفترکمیسیون سمع شکایات انتخاباتی یا دفتر ولایتی این کمیسیون راپورمی دهید باید تاریخ، زمان و جای حادثه را مشخص سازید. همچنان باید تفصیل واقعه و لست اشخاصیکه در جریان حادثه موجود بودند و حاضر به گواهی باشند به دفتر شکایت تسلیم بدهید. کمیسون شکایات تنها در آن صورت اقدام کرده میتواند که شفافیت و ازاد بودن انتخابات تحت شعاع قرار گرفته باشد، به این معنی که دفتر ولایتی کمیسیون شکایات انتخابات منازعات شخصی شمارا حل کرده نمیتواند ونه کسی را متهم شناخته میتواند. برای درج شکایات شما به دفتر ولایتی کمیسیون شکایات انتخابات مراجعه کرده میتوانید. در صورتیکه شما نظر به ملحوظات هراس داشته باشید، شما میتوانید از دفاتر مذکور تقاضا نمایید تا هویت شما محرم نگهداشته شود.

این برای همه ما افغانان مهم است که از این موقع استفاده نماییم و کاندیداهای دلخواه خود را بشناسیم.

* برای کاندیدان محترم، هر کاندید ولسی جرگه و شورای ولایتی می توانند از طریق رادیو تلویزیون اعلانات خود را پخش کنند. به خاطر معلومات بیشتربه ما از طریق ایمیل آدرس ذیل مراجعه نمایند. ایمیل: info.mc@jemb.org

متصدی: سباوون

د بیا رغاونی په لور

له پاکستان څخه د کډوالو په بیرته ستنیدنه کې زیاتوالی

دپاکستان په سرحد ایالت کې دکډوالو دنړیوالي اداري چارواکي وایی چې اوس مهال له دې ایالت څخه افغانستان ته دکډوالو په بیرته ستنیدون کې دپام وړ زیاتوالی راغلی دی.

په پیښور کې دکډوالو دنړیوالي اداري ویانده وجیهه افضل وایی چې دجنګابښ تر پایه یوازې په سرحد ایالت څخه دیوسل اوپنځوسو زرو څخه زیات افغانان هیواد ته تللی دی خو که دپاکستان له نورو ایالتونو څخه دستنیدونکو کډوالو شمیر ورسره شي نو له دوه سوه اولس زرو څخه اوړي. په داسې حال کې چې سږ کال له پاکستان څخه دکډوالو ستنیدنه دمارچ په اومه پیل شوې او یوازې په څلورنیمو میاشتو کې دستنیدونکو شمیره په تیر کال کې دټاکل شوي اټکل له نیمایی څخه اوړي.

په روان عیسوی کال کې دکډوالو اداري دڅلورسوو زرو افغان کډوالو د بیرته ستنیدنې اټکل کړی دی.

وجیهې افضل پژواک اژانس ته ویلی: «که دکډوالو دستنیدلو شمیره هم داسې ګړندی پرمخ روانه وي نو کیدلی شي چې له خپل ټاکلي هدف څخه به زیات افغانان بیرته افغانستان ته ولیږدول شي.

په پکستان کې سختې ګرمی، سیلابونو د کډوالو دکورونو نړیدو او دپولیسو له خوا دترهګرو په نوم د خلکو نیولو هم افغان کډوال دې ته اړویستي چې خپلې کډې په اوږو کړي او افغانستان کې له سره ژوند پیل کړي.

دپیښور په باډرو کې دکډوالو دنړیوالي اداري دسترګو دپلټنې په مرکز کې دبیلابیلو لاملونو له امله یو شمیر کډوال دکډوالو دنړیوالي اداري په تول برابر نه خیژي خو دمرستو نه حاصلول هم هیواد ته ددې کډوالو دستنیدنې مخه نه شي نیولی.

د کډوالو دنړیوالي اداري چارواکو له محمد نبي او دده له کورنۍ سره چې دخاص کونړ اوسیدونکی دی او دچارسدې دتنګې په زیم سیمه کې یې ژوند کاوه دزمری پر دومه مرسته ونه کړه.

په داسې حال کې چې نوموړی دمرستو له اخیستلو پرته له خپلې کورنۍ سره افغانستان ته روان و وویل: «موږه یې بینوا او شړلو. هسې اخوا دیخوا یې راته کول، راته یې ویل که ځئ لاړ شئ، که نه ځئ مه ځئ.»

خو د نوموړی زوی محمد ولی وویل: «دوی دښځو جامې او عکسونه هم کتل، مو ورته وویل چې دا خو په اسلام کې نشته په هم دې راته غصه شو او د کومك نه یې محروم کړو.

دکډوالو دنړیوالي اداري له ویاندي وجیهه افضل نه مو وپوښتل چې ولې یو شمیر افغانان له مرستو څخه بې برخې پاتې کیږي هغې زیاته کړه: «ددې دوه درې لاملونه کیدای شي یایې ماشومان یو بل ته ورکړي وي، یا له افغانستان څخه نوی راغلي وي یوازې ددې لپاره چې کمك ترلاسه کړي یا په دوهم حل دکومك لپاره حاضر شوي وي.»

یوه افغانی میرمن چې خپل نوم یې خیبری وښود او د کندز ولایت ته یې کډه بار کړې وه وویل: «زوی مې په مدرسه کې سبق ویلو ملګري یې پولیسو بیولي وو موږ هم وډار شولو چې دغه یو زوی مو دې هسې نه چې ګوانتانامو ته یې ورسوي نو کډه مو په عزت راباره کړه.»

خو دخزانی کمپ اوسیدونکی مطیع الله چې جلال آباد ته له خپلې کورنۍ سره روان و او مرسته هم ورسره شوې وه دخپلې ستنیدنې په اړه وویل «زموږ په کمپ سیند راوختلو او کورونه یې راته وغورزول موږ ویل چې دلته بیا له سره خپل کور ابادوو ولې افغانستان کې خپل کور نه آبادوو.»

په پاکستان کې اوس مهال درې میلیونه افغان کډوال ژوند کوي چې دغه شمیره دکډوالو د نړیوالې اداري او دپاکستان سرشمیرنې داداري له خوا تصدیق شوې ده.

داسې ښکاري چې زموږ ځینې مهاجر هیوادوال دپاکستان دحکومت او پولیسو له ویرې او ځینې دشخصي ستونزو د درلودلو له امله دهیواد په لوري را روان دي او دغه شمیر ورو ورو پداسې حال کې زیاتیږي چې دلته دکورونو او کارونو دپیدا کولو زیاتې ستونزې موجود دي ځکه خو لازمه ده چې دولت دمهاجرو لپاره دهغو پروګرامونو په سرته رسولو کې چې دکورونو په برخه کې یې تر پلان لاندې نیولي جدی اجراات ترلاسه لاندې ونیسي او دهغو د بوتیا په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.

تولیدات پنبه در کندز، امسال به ده هزار تن خواهد رسید

تولید پنبه در ولایت کندز که به علت جنگها وزرع کوکنار کاهش یافته بود، اکنون یک باردیگر مورد توجه اکثریت دهاقین قرار گرفته که تولیدات امسال پنبه به ده هزار تن خواهد رسید.

محمد ابراهیم ترکمن رئیس زراعت ومالداری ولایت کندز اظهار نمود که در سال جاری حدود ۶۰۰۰ هکتار زمین تحت پوشش کشت پنبه در ولایت کندز بوده که از جمله آن، ۲۶۰۰ هکتار، شش نوع تخم اصلاح شده فرانسوی میباشد.

رئیس زراعت و مالداری کندز ادعا کرد: «۹۹ در صد دهاقین ولایت کندز به تولید پنبه رو آورده اند که در سال روان بیش از ده هزار تن پنبه به دست خواهد آمد در حالیکه سال گذشته به سطح کندز کمتر از هشت هزار تن پنبه تولید شده بود.

پنبه (پخته) ماده زراعتی است که از پنبه دانه به دست می آید پنبه دانه درزمینها زرع میشود و بعدا ذریعه ماشین، دانه آن تصفیه شده و از آن روغن تولید میشود و از بقایای آن، انواع ضروریات مردم از قبیل پخته و صابون به دست می آید.

پنبه در آغاز سال زرع میگردد و در ماه میزان حاصل میدهد ودر اقتصاد مردم از اهمیت قابل ملاحظه برخوردار است.

به گفته رئیس زراعت ومالداری ولایت کندز، هیچ نوع پنبه از خارج به کندز وارد نمی شود و تنها همین محصولات دهاقین است که نه تنها ما احتیاج خود مردم کندز راتکافو میکند بلکه به سایر ولایات وخارج از کشور صادر میگردد.

آقای ترکمن در مورد علت اینکه چرا پنبه خارج وارد کندز نمی شود گفت که تولید پنبه کندز قناعت بخش بوده ونسبت به پنبه خارجی ارزان و کیفیت متوسط دارد.

موصوف گفت: از سابق یکنوع تخم امریکایی زراع میشد که در مارکیت جهانی ارزش جهانی بالاتر داشت وهم اکنون نیز از کیفیت و ارزش خوبی بر خوردار است واکثر زارعین ما طی سه سال اخیر از همین نوع کشت میکنند...)

در حالیکه رئیس زراعت و مالداری کندز، تولیدات سالانه قبل از سالهای جنگ را حدود ۸۴ هزار تن پنبه در کندز خواند، خاطر نشان کرد که از این ۸۴ هزار تن پنبه یکمقدار آن به کشورهای اروپایی از جمله انگلستان که یکی از مشتریان مهم پنبه افغانستان بوده صادر میگردید وی پول عایداتی از درک صادرات آن رامشخص نه کرد.

آقای ترکمن اضافه نمود که تخمهای اصلاح شده جدید که توسط یک کمپنی فرانسوی بنام (نتکود) و ارد شده تا هنوز نتیجه آن معلوم نیست زیرا نظر به تحقیقات زراعتی و توافق آب وهوای منطقه تا دوسال آینده نتیجه آن به دست خواهد آمد.

زارعین از کشت و حاصلات پخته خوش بین بوده، اما کمک دولت و موسسات امدادی را در این راستا مهم میدانند.

غلام حیدر دهقان ۵۰ ساله باشنده قریه قصاب ولسوالی چهار دره کندز که حدود ده جریب زمین زراعتی اش را پنبه کشت کرده است گفت: «اگر دولت و موسسات با ما کمک کند هر سا ل میکاریم چرا که هم برای زمین ما فایده دارد وهم اگر حاصل خوب بدهد به اقتصاد ما مفید است.»

اما رئیس زراعت کندز به تایید مشکلات زارعین پنبه میگوید که نبود کریدت یا قرضه ووسایل تخنیکی در سیستم میکانیزه شدن زراعت از مشکلات عمده زارعین پنبه است که در صورت ادامه پروسه قرضه وسهولت در کار های فزیکی آنان به پیشرفت قابل ملاحظه خواهد انجامید.

به گفته وی در سال گذشته فی کیلو پنبه دانه در بدل ۱۱ افغانی و فی کیلو پخته خالص مبلغ ۱۶ افغانی در بازار کندز به فروش میرسید که قیمت آن، در سال جاری بعد از حاصلات ماه میزان معلوم خواهد شد.

دتولیدی سکتورونو رامنځته کیدل او د بې کارۍ دستونزو کم والی

زموږ په هیواد کې اوس مهال کې ډیره ځوروونکی ستونزه دبې روزګارۍ او بې کورۍ ستونزه ده چې ورځ په ورځ یې اندیښنې زیاتیږي.

دولت که څه هم دخصوصي سکتورونو د ایجاد او پراختیا لپاره اجازه ورکړې ده او یوازې په روان کال ۹۰۰ کمپنیو دپانګو داچولو لپاره جوازونه ترلاسه کړي دي او دا هغه ستره بریا ده چې زموږ دهیوادوالو لپاره که چیرې په سمه توګه او ژر داستفادې وړ وګرځي کارونه برابرولی شي. خو داسې ښکاري چې پانګوال دزرګونو جوازونو له ترلاسه کولو سره سره په دوه لارې کې ولاړ دي له یوې خوا په هیواد کې دامنیت په برخه کې اندیښنې له بلې خوا دهغوی لپاره دبریښنا او ځای د نشتوالی اندیښنې هغه ستونزې دي چې دتولیدي خصوصي سکتورونو دجوړونې او بیا جوړونې بهیر یې سست کړی دی.

له بلې خوا دهیواد په مرکز او ولایاتو کې د وارداتي سوداګرو له خوا د مالونو راوړل دهیواد په دننه کې دتولیدي خصوصي فابریکو دمالونو د بازار دخرابیدو سبب ګرځي همد اوس دهیواد په مرکز او ولایاتو دبازار دخرابوالی او دغه راز د بریښنا ستونزو دشتون له امله تولیدي فابریکې ودریدلې او کارګران یې وزګار پاتې شول.

له دې امله چې پانګوال هیوادوال دخپلو فابریکو دجوړولو په برخه کې ډاډه شي لازمه ده چې دهغوی لپاره دځمکو د ورکولو، دبډو اخیستلو دمخنیوی او دهغوی داړتیاوو دله منځه وړلو په برخه کې لازمې مرستې سرته ورسیږي او دهغوی دتولیدي توکو دپلورلو لپاره دبازار د رامنځته کولو په برخه له خارني او کنترول سره سم اړوندې اداري اجراات وکړي.

د حج په مناسکو کې...

دغه کسان یوه بله وروستۍ محکمه هم لري
په کابل کې استیناف محکمې په یوه ښکاره محاکمه کې دحج او اوقـاف وزارت مرستیالانو عطاالرحمان سلیم او سید جمال مبارز ته دولتي شتمنیو کې د غدرپه جرم ، درې -درې کاله بند اودقربانۍ دپیسو د حیف و میل په جرم د ، دوه- دوه کاله تنفیذي حبس سزا واورول شوه.
داستیناف دعالي محکمې رییس قضاوت پوه ضیاءالحق دینارخیل وویل چې د محکمې دپرېکړې له مخې به سلیم ۱۴ ملیونه او ۸۰۰ زره افغانۍ او مبارز ۱۳ میلیونه او ۱۳۲ زره افغـانۍ او ۲۰ زره سعودي ریاله نغدي پیسې دولت ته ورکوي. دمحکمې دمعلوماتو له مخې ، سلیم دغه پیسې دحاجیانو دقربانۍ او دبعثه له پیسو او مبارز یوازې دبعثه له پیسو څخه جیب ته کړې وې.
همدارنګه دې محکمې دحج او اوقافو وزارت دحج وبیس ډاکټر سـید ابراهیم حکمت ، دجوماتونو اوتکیه خانو رییس مولوي عبدالمعبود ، داسلامي تحقیقاتو دڅېړنو رییس مولوي شمس الحق هاشمزی ، ددغه وزارت دپلان ریاست دپروژو مدیر میرواعظ واعظ په دوه - دوه کاله بند او د مسلکي مرستیال سکرتر محمد قسیم او دبعثه په چارو کې نقدي معتمد مسعود په یو - یو کال بند محکوم کړل.
دغه شان دمحکمې دپرېکړې له مخې دحج او اوقافو وزارت دحج رییس ډاکټر سید ابراهیم حکمت دقربانۍ له پیسو څخه ۱۳ میلیونه او ۱۳۲ زره افغـانۍ، دجوماتونو او تکیه خانو رییس مولوي عبدالمعبود دقربانۍ له پیسو څخه یادشوی رقم او د بعثه له پیسو څخه ۴۳۲۰۰ امریکایي ډالره ، مولوي شمس الحق هاشمزي ۱۳ میلیونه او ۱۳۲ زره افغانۍ ، محمد قسیم او مسعود یو -میلیون او ۸۴۹ افغـانۍ وهلي او اړدي چې بېرته یې دولت ته ورکړي.
محکمـه همدا راز وایـي چې میرواعظ واعظ د حاجیانو دکرایې له پیسو وهنه کړې ده چې ، وروسته له څېړنو به دغه پیسې معلومې شي. سلیم او مبارز دمحکمې دحکم دصادرېدو پرمهال دغه محکمه دپخوانۍ ابتدایې محکمې په شان په بې عدالتۍ تورنه کړه.
نوموړو ، قاضیان او څارنوالان په ناسمه قضاوت تورن کړل.
یادشوي کسان پنځه میاشتې وړاندې دابتدایه محکمې لخوا په درې - درې کاله بند تېرولو او دیادې شوې نغدي جریمې په ورکولو مکلف پېژندل شوي وو.
تېر کال ۳۰ زره افغانان بیت الله شریف ته دزیارت کولو په خاطر تللي وو چې هر یوه یې ۲۰۰۰ امریکایي ډالره دولت ته سپارلي وو په دې رقم کې دحاجیانو ټول لګښتونه شامل وو.
دحج او اوقافو او ترانسپورت وزارتونو ته بیت الله شریف ته دتلونکو زیارت کوونکو حاجیانو دتللو اوبېرته راتلو دنده ورسپارل شوې وه ، خو حاجیانو پردوی تور لګاوه چې دقربانۍ په نوم یې ترې ۱۰۰ ډالره اخیستي او قربانۍ یې ورته نه ده کړې. دغه شان حاجیانو داعاشې اوا باتې ، دلارښود او دروغتیایي اسانتیاوو دنشتوالي له امله هم نیوکې کړې وې.
بیت الله شریف ته دتلونکو زیارت کوونکو دزیاتو شکایتونو پراساس ولسمشر حامد کرزي یو څلورکسیز پلاوي ته دنده ورکړه چې دحاجیانو دستونزو پلټنه وکړي ، دغه محکمه دهمدغو څېړنو له مخې جوړه شوې وه

د اسد اته ویشتمه ....

او دې ته یې مجبور کړ چې له هیواد څخه لاړ شي زموږ په هیواد کې بهرنیانو زموږ دخلکو دنبض په پوهېدو سره وکړای شول چې دکلونو کلونو یووالی په بېلابېلو لارو له منځه یوسي او افغانان په خپل منځ کې یو دبل وینو ته تږي کینولي چې څو لسیزې مو دخپل وطن په ورانولو او خپلو کې په وژلو تیرې کړې خو اوس چې ټول هیوادپال افغانان په نوموړو دسیسو پوه شوي دي د مرکزي قانوني مشرۍ په شاوخوا راټول شول.
موږ باید دخپلواکۍ دلاسته راوړلو دورځو او وختونو په څېر له هغه یووالي څخه زده کړه وکړو دهغه کسانو چې په بېلابېلو لباسونو کې اوپه بېلابېلو نومونو دوطن اوخلکو دارامۍ او سوکالۍ مخالف او ورانوونکي دي مخه ونیسو او دولت ته هم پکار دی چې دغه دحماسو او ویاړنو ډکه ورځ دنورو ورځو له اغیز او سیورې څخه وباسي او هر کال په شانداره مراسمو سره ونمانځل شي او دغې ورځې ته باید تر نورو ټولو ورځو څخه زیات ارزښت ورکړو چې دا دیووالي او ابادولو ورځ ده اودا دخپلواکۍ دستر نعمت دلاسته راوړلو ورځ ده او زموږ دهیوادوالو په زړونو کې یې ستري خاطرې نه دي ثبت کړې.

کشف مجسمه نیم تنه ای...

وی، علاوه کرد که استوپهٔ بزرگ ، به طول وعرض سی متر و درکنار آن استوپهٔ کوچك ، به طول وعرض پنج متر کشف گردیده است که این استوپه ها محلات نذر وخیرات زایرین بودا بود
به گفته طرزی ، این آثار تاریخی بعد از حفاری شش متر خاک . در فاصله سه صد متری، طرف جنوبغرب مجسمه های تخریب شده بودا ، کشف گردیده و چندین استوپه دیگر در بین این دو استوپه وجود دارد که بعداً کشف خواهد شد.
آقای طرزی، گفت : «قدامت این استوپه ها برمی گردد به قرون سوم تا پنجم میلادی» رییس تیم کاوشگران افغانی و فرانسوی. اضافه نمود که با کشف این آثار، قدامت آثارباستانی بامیان .بیشتر ازآن شده است که قبلاً گفته می شد . قدامت آثارباستانی بامیان، به قرون ۵ و ۲ میلادی برمی گردد. طرزی ، اظهار داشت «این دستاورد بسیار بزرگ، در نتیجهٔ حفریات ماست.»
وی، از وزارت اطلاعات و فرهنگ وتوریزم کشور وسازمان فرهنگی ملل متحد (یونسکو)، خواست تا درزمینه تحفظ ساحات آثار باستانی، اقدامات جدی تری راانجام دهد و کسانی راکه درساحات آثار باستانی، زنده گی می کنند انتقال دهند.
محمد انور (فائز)، نماینده ریاست باستانشناسی وزارت اطلاعات وفرهنگ وتوریزم، درزمینهء کشف این آثار گفت که آثار کشف شده، تسلیم ریاست اطلاعات وفرهنگ بامیان. خواهند شد تا درموزیم محلی این ولایت نگهداری شوند
وی افزود آثاری که قابل انتقال نمی باشد بعد از پاك کاری .ثبت وراجستر، درمحل اصلی شان نگهداری می شودتا به عنوان موزیم غیر قابل انتقال، ازآنهاحفاظت شود.
پروفیسور طرزی، که از چهارسال بدینسودرنزدیکي دو مجسمهء تخریب شدهٔ بودا درولایت بامیان،مشغول حفاری است .امیدواراست بعد از کشف این سه اثر تاریخی ، بودای خوابیده را نیز زمانی کشف نماید

خواسته طالبان پذیرفته...

رییس شرکت انور صوفان در کابل به آژانس خبری پژواک گفته است . که تاهنوز طالبان با آنان تماس نه گرفته اند.
وی افزوده : «ما حاضر هستیم به خاطر رهایی صفی الدین شرکت را بندیم وهرکمکی که طالبان خواسته باشند انجام دهیم .»
قرار معلومات وی ، این شرکت خدمات فروش ، نصب و ترمیم جنراتورها را در تمام افغانستان انجام میدهد .
به گفته وی این شرکت از مدت چهار سال در افغانستان مصروف فعالیت است ، علاوه از کارمندان خارجی ۹۳ کارمند افغانی نیز دارد که همه انها مسلمان اند . رییس شرکت انور صوفان ، گرچه از اختطاف انجنیر اختطاف شده متاثر بود اما گفت که چون انجنیر مذکور مسلمان است مطمین است که طالبان اورا نخواهد کشت .
وی ، افزود که شماری از سران قومی افغان با او در تماس اند و حاضر اند تا همرای لطیف الله حکیمی سخنگوی طالبان در مورد رهایی او مذاکره نمایند . انجنیر لبنانی شش طفل دارد و خانمش گفته است که همه آنها بی صبرانه چشم براه رهایی او اند .
همچنان انجینیر لبنانی روز گذشته گفته بود که دولت ، شرکتش وهر آن کسیکه در مورد رهایی او می توانند کاری انجام دهد ،در این مورد از همکاری دریغ نکنند . وی افزوده بود : «زندگی ام را نجات دهید ، ما این کشور ووظیفه را ترک میکنیم .»

انفجار یکصد بمب...

یک سازمان تندرو اسلامگرا موسوم به جماعت المجاهدین بنگله دیش، که غیرقانونی اعلام شده، مسئولیت این انفجار را بر عهده گرفته است.
لطف الزمان ببر، وزیر داخله بنگله دیش، گفته است که انفجارهای روز چهارشنبه عملیاتی سازمان یافته بوده است اما وی از هویت مرتکبین آنها اطلاعی ندارد.
در برخی محل های انفجار اعلامیه گروه جماعت المجاهدین یافت شده که هدف این سازمان از بمب گذاری ها را تشریح می کند.
در این اطلاعیه آمده است که "زمان آن فرا رسیده تا احکام اسلامی در بنگله دیش جاری شود زیرا برای قوانین ساخته بشر آینده ای متصور نیست."
این اطلاعیه به جورج بوش، رییس جمهور آمریکا، و تونی بلیر، صدراعظم بریتانیا، هشدار داده شده است تا، به گفته نویسندگان اعلامیه، از اراضی مسلمانان خارج شوند.
اوایل سال جاری دولت بنگله دیش جماعت المجاهدین و گروه دیگری موسوم به جاگارتا مسلم جناتا را به دست داشتن در بمب گذاری در دو سازمان امدادرسانی بشردوستانه به نام های گرامین و براک غیرقانونی اعلام کرد. به گفته خبرنگار بی بی سی، غیرقانونی کردن این دو گروه به منزله چرخشی عمده در سیاست دولت بنگله دیش بود که پیش از آن اصرار داشت که تهدیدی را از سوی پیکارجویان اسلامی احساس نمی کنند.
در پی انفجارهای روز چهارشنبه، ماموران پولیس در تقاطع جاده های پایتخت مستقر شدند و به بازرسی موترها پرداختند.
در سال های اخیر، مواردی از بمب گذاری در بنگه دیش گزارش شده و در روز شنبه همین هفته، پرتاب چندین وسیله انفجاری به سوی یک زیارتگاه مسلمانان در شرق این کشور یک نفر را کشت و پنجاه نفر را زخمی کرد.
بنگله دیش، که تا زمان کسب استقلال در سال ۱۹۷۱ به عنوان پاکستان شرقی، تحت اثر حکومت پاکستان قرار داشت، در همسایگی هند و برما واقع است و از جمله کشورهای فقیر آسیا به شمار می رود.
جمعیت این کشور به حدود ۱۴۵ میلیون نفر می رسد که ۸۳ درصد آنان مسلمان، ۱۲ درصد هندو و بقیه تابع سایر ادیان هستند.

آغاز مبارزات...

از آنجا که تعداد کمی از نامزدها تحت لوای یک حزب خاص مبارزه می کنند ، مشکل رای دهندگان این است که باید تشخیص دهند کدام نامزد برای پیش بردن کدام شعار مبارزه می کند.احزاب در کشور مورد استقبال قرار نمی گیرند چرا که آنها مسئول بسیاری از درگیری های خونین این کشور بوده اند.اما بسیاری از مردم از آن بیم دارند که رهبران برخی از جناح های قدیمی به پارلمان راه یابند ، چون آنها پول و قدرت بیشتری دارند.علیرغم تداوم چندین ماه خشونت های جدی و چالش در سازمان دادن چنین رای گیری پیچیده ای، سازمان دهندگان اذعان می کنند که نتیجه انتخابات برای آنها بزرگترین مایه نگرانی است.

بازدید وزیر دفاع...

نمایندگان هسپانیا ، در راس گروه تحقیقاتی ناتو ، علت سقوط هلی کوپتر را بررسی می کنند.
هلی کوپتر هسپانیایی حامل گروهی از صلحبانان تحت فرمان ناتو ، روز سه شنبه ۱۲ آگست در شهر هرات سقوط کرد و هفده سرنشین هسپانیایی آن کشته شدند. خوزه لویس رودریگرز صدراعظم هسپانیا می گوید که اجساد قربانیان، به زودی شناسایی شده و به کشورشان بازگردانده خواهد شد.
سال گذشته شصت و دو سرباز هسپانیایی در یک سانحه هوایی در ترکیه کشته شدند ، اما سی جسد ، به طور اشتباهی شناسایی شده بود.
اکنون این نگرانی وجود دارد که تراژیدی اخیر در افغانستان نیز، به یک رسوایی دیگر برای دولت هسپانیا تبدیل شود.
مقامات نیروهای صلحبان تحت فرمان ناتو (آیساف) گفته اند که تاکنون علت اصلی سقوط هلی کوپتر روشن نیست، اما خوزه بانو وزیر دفاع هسپانیا می گوید که احتمال حمله به این هلی کوپتر ، تکذیب نشده است.
صدراعظم هسپانیا ضمن ادای احترام به روح سربازان قربانی، به مردم کشورش اطمینان داد که سربازانشان، نقش حیاتی در تامین امنیت در افغانستان ایفا می کنند
حامد کرزی رییس جمهور کشور نیز، از این حادثه ابراز تاسف کرده و گفته است که مردم افغانستان، فداکاریهای این سربازان را فراموش نخواهند کرد.
اندی المس، یک سخنگوی نیروهای یاری امنیتی (آیساف) در کابل گفت که هنوز دلیل اصلی سقوط هلی کوپتر در هرات روشن نشده است.
او گفت مدارکی در دست نیست که این حادثه در اثر حمله دشمن روی داده باشد.
آقای المس افزود: "ما هنوز هم باور داریم که این سقوط از اثر یک تصادف روی داده است نه در اثر حمله دشمنان."
سخنگوی آیساف گفت: "تحقیقات آغاز شده است و کشور هسپانیا رهبری آن را به عهده دارد."

پولیس کندهار نشرات...

و خود را کار مندان جنایی قوماندانی امنیه کندهار معرفی می کردند حوالی ساعت پنج صبح داخل استدیو رادیو شده به دستانم الچک زده و مرا با خود قوماندانی امنیه بردند انجا با سیلی و مشت و لگد به جانم افتادند.
به گزارش خبرنگار اراده از کندهار کارمندان افغان ازاد رادیو در حالیکه این عملکرد پولیس ان شهر را خلاف احکام قانون اساسی و مغایر با همه نورم ها و مقررات نافذ در کشور میدانند از مسوولین تقاضا می کند تا قضیه را که در واقع بی حرمتی به حق ازادی بیان و حقوق حقه ژورنالیستان است تحت بررسی و بیگرد قانونی قرار دهند

د طلاګۍ مشرې...

ددغو وسلوالو غلو محاکمه درې ورځې وړاندې داړوندې محکمې له خوا پیل شوې وه ، خو قاضیانو یې دڅنډ لامل د هغوی پردوسیو پوره غور وښود.
دلنډ مهالې سترې محکمې یو قاضي پژواک خبري اژانس ته ویلي چې دغه وسله وال غله پر لسګونو غلاوو او وژنو سربېره دیوناما دکارکوونکو په تښتونه هم تورن شوي دي.
دیوناما درې تنه کارکوونکي چې په کابل کې یې دانتخاباتو په ګډ دفتر کې کار کاوه، دتېر کال په لړم میاشت کې تښتول شوي وو چې تر ۲۷ ورځنۍ برمتې وروسته را خوشې شول.
نوموړي قاضي وویل چې د وسله والو غلو دډلې د مشرانو طلاګي او شریف الله په ګډون عزیز الله ، محمد رفیق ، حبیب الرحمن ، نیاز محمد او زلمي ته داعدام سزا او عمراخان او فرهاد ته د ۱۲ کلو بند سزا اورول شوه. دطالبانو دامارت تر پرځېدو وروسته تردې مهاله ۴۳ تنو ته دد رې ګونو محکمو له خوا داعدام سزا اورول شوې، خو تردې دمه یوازې پر یوه تن (عبدالله شاه) باندې تطبیق شوېده. داساسي قانون له مخې ، قضاییه قوه په خپلو کړنو کې خپلواکه ده، خو داعدام په حکم کې دولسمشر لاسلیک اړین دی. داړوندې محکمې دپرېکړې له مخې دیوناما دفتر ډریور محمد رفیق (دوهم رفیق) ، چې په یاده شوې ډله کې و ، بري الذمه وپېژندل شو.
داړوندې محکمې یوبل قاضي ویلي : «دعوه حق العبدي محفوظ است ، اګر کسې بالاي شان ادعاکند که مال ویااجناس راغارت نموده میتواند به محکمه حاضرشوند وادعانمایند .»

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: ظهور افغان
معاون: سهراب دیدار
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکز نشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد شاه "وحدت"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
تیلفون موبایل معاون: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan(Mobil phone :070224787)
Deputy: Suhrab Didar (Mobil Phone: 070222726)
eradadaily@hotmail.com
قیمت یک شماره ۳ افغانی